# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۲۱مه | د ۲۰۱۸ د نومبر ۱۲مه | دویم کال| ۲۸۳یمه گڼه


# خلیلزاد د افغان سولې په تړاو د خپلو هڅو راپور له ولسمشر غني سره شریک کړ



۳

## د ولسمشر ولایتي سفرونه او ناقانونه کمپاین

۲ مخ

## د سیل او چکر لپاره په چین کې دغه ځایونه خورا مشهور دي

۵ مخ

## انتخاباتي کمپاین او د لوبو تیوري

۳ مخ

## امنیتي ځواکونو په هرات کې د افغان-ترک لیسې ښوونکي او زده کوونکي نیولي دي

په هرات کې د افغان – ترک ښوونځي زدکوونکي او د دوی د کورنیو ګڼه کمېټه وایي چې امنیتي ځواکونو د دغه ښوونځي یو شمېر ښوونکي او زدکوونکي نیولي دي.

په هرات کې د افغان ترک ښوونځي ځینو زدکوونکو ادعا کړې چې پرون سهار شاوخوا شپږ بجې امنیتي ځواکونه ښوونځي ته ورننوتي او ان د ښوونځي په انګړ کې یې ډزې کړې دي.

عیني شاهدانو هم ویلي چې پرون سهار امنیتي ځواکونه د افغان - ترک د هلکانو ښوونځي ته ور دننه شول او د انګړ دروازه یې وتړله.


امنیتي ځواکونه د څو ساعتونو په تېرېدو سره هم د دغه ښوونځي په شاوخوا کې ګرځېدل او رسنیو ته یې اجازه نه ورکوله چې ښوونځي ته نږدې ورشي.

د زدکوونکو د کورنیو کمېټې ښوونځي ته د امنیتي ځواکونو دننه کېدل، د ښوونځي ترل او د زدکوونکو او ښوونکو نیول په کلکو ټکو غندلي او دغه کار یې د نه منلو وړ بللی دی.

د هرات پولیسو، د پوهنې ریاست او سیمه ییزې اداري په دې اړه له څه ویلو ډډه کړې، خو دوه میاشتې مخکې د شبرغان ښار د افغان- ترک ښوونځي یو شمېر ښوونکي هم امنیتي ځواکونو نیولي وو.

د افغان ترک ښوونځي په ترکیه کې د ۲۰۱٦ز کال د ناکامې کودتا د طراح فتح الله ګولن د غورځنګ اړوند وو چې وروسته د یوه تړون له مخې د افغان حکومت له لوري د ترکیې حکومت ته وسپارل شول.

## حکمتیار او دوستم پر راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو بحث کړی دی



۲ مخ

## هیواد


۴ مخ

## سینیگال

د سینیگال ۸۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۷ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدې سکټور څخه لاسته راځي.



## په فراه کې سږکال ٦۰۰ مېټریک ټنه عناب تولید شوي



د فراه ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالداری ریاست وایي، له دې لارې د دې ولایت بزګرانو او سوداګرو یو میلیارد او ۸۰۰ میلیونه افغانۍ عایدات ترلاسه کړي دي.

عناب هغه طبي بوټی دی چې د ارزښت له مخې په سرو زرو مشهور دی.

عناب طبي بوټی د هېواد په ځینو سیمو کې په خپل سر شین کېږي او په ځینو نورو سیمو کې بیا د کرنې وزارت او خلکو له خوا کرل کېږي.

فراه د هېواد په کچه د عنابو تر ټولو مهم تولیدوونکی ولایت دی چې اوسمهال په دې ولایت کې په ۱۲۰۰هکتاره ځمکه کې د عنابو بوټي کرل شوي دي.

د فراه ولایت د کرنې ریاست وایي چې په دې ولایت کې شپږ زره کسان په مستقیم او ۱۸ زره کسان په غیر مستقیم ډول د عنابو په کرکیله بوخت دي.

## سند بودجه سال مالی آینده به مشرانو جرگه سپرده شد



سند بودجه ملی سال مالی ۱۳۹۸خورشیدی که ۳۹۹ میلیارد افغانی است از سوی حکومت به مشرانو جرگه سپرده شد.

سرپرست وزارت مالیه میگوید که از این میان ۲۷۵ میلیارد افغانی آن بودجه عادی و ۱۲۴ میلیارد افغانی بودجه انکشافی را تشکیل میدهد. سرپرست وزارت مالیه میگوید که این بودجه با در نظرداشت معیارهای جهانی و بر بنیاد نیازمندی های کنونی تهیه شده است.

همایون قیومی سرپرست وزارت مالیه میگوید: «مجموع بودجه ملی ۳۹۹ میلیارد افغانی است که ۲۷۵ میلیارد افغانی آن بودجه عادی و ۱۲۴ میلیارد افغانی بودجه انکشافی است و ٦۱ میلیارد افغانی بودجه اختیاری و ٦۳ میلیارد افغانی بودجه غیر اختیاری است.» در همین حال شماری از سناتوران تأکید می‌ورزند که اگر پیشنهادات اعضای این جرگه در سند بودجه گنجانیده نشود، این بودجه را رد خواهند کرد.

محمد عظیم قویاش رئیس کمیسیون اقتصاد ملی مشرانو جرگه می افزاید: «نظریات ما در بودجه چند سال اخیر در نظر گرفته نمیشود و چه نیاز است تا بر سند بودجه پانزده روز کار کنیم».

در همین حال رئیس مشرانو جرگه تأکید می‌ورزد که مسؤلیت اعضای جرگه است که در باره سرنوشت بودجه چه تصمیم می گیرند.

با این حال سناتوران در مشرانو جرگه تأکید می‌ورزند که پس از بررسی سند بودجه روشن خواهد شد که تا چه اندازه توازن در بودجه انکشافی در نظر گرفته شده و این بودجه تا چه اندازه به چالش های مردم رسیدگی خواهد کرد.




Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a book to your life

دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریــځ

### د ولسمشر ولايتي سفرونه او ناقانونه کمپاين

ولسمشر غني باميان او دايکنډي ولايتونو ته سفر کړی او هلته يې بيا کمپايني خبرې کړې دي. هغه ويلي چې په راتلونکو ټاکنو کې به يو ځل بيا سرور دانش د ده دويم مرستيال وي. د ولسمشر مرستيال ویاند شاحسين مرتضوي ويلي چې ولسمشر غني له خلکو سره ژمنه کړې چې جاغوري ولسوالي به ولايت کوي.

ولسمشريزو ټاکنو او ټاکنيز کمپاين ته لا وخت پاتې دی، خو ولسمشر ولايتي سفرونه پيل کړي دي او موخه يې په ښکاره کمپاين دی. هر کانديد حق لري چې کمپاين وکړي، خو د ولسمشر اوسنی کمپاين د څو دلايلو پر بنسټ د قوانينو خلاف او د افغانستان او افغانانو په زيان دی: لومړی دا چې د ولسمشرۍ لپاره د کمپاين وخت لا په رسمي ډول اعلان شوی نه دی. ولسمشر نه شي کولی چې په دې وخت کې په ښکاره کمپاين وکړي. له بله اړخه ولسمشر سر له اوسه د خپل کمپاين لپاره دولتي امکانات او رسمي وخت کاروي. دا کار په ښکاره د قوانينو خلاف کار دی. هېڅوک نه شي کولی چې دولتي امکانات وکاروي او يا هم په داسې حال کې چې رسمي دولتي کارکوونکي وي، په رسمي وخت کې کمپاين وکړي. ولسمشر د تل په څېر پر قانون پښه ږدي؛ له يوه اړخه دولتي امکانات کاروي او له بله اړخه په رسمي وخت کې کمپاين کوي.

د ولسمشر د کارونو دويمه ستونزه دا ده چې خبرې او کړنې يې د افغانستان او افغانانو په زيان دي. ولسمشر نه شي کولی چې د ټاکلو پروسيجرونو له تېرولو پرته د يوې ولسوالۍ د ولايت کېدو لپاره گام واخلي. دا خو روښانه ده چې هغه دا کار يا دا خبرې د کمپاين لپاره کوي، خو کمپاين هم اصول او بريدونه لري. د ولايتونو د زياتولو لارې چارې روښانه دي او ولسمشر ته پکار نه ده چې د رايو لپاره اصول او قوانين تر پښو لاندې کړي. کله چې شينډنډ، شينواري، سيداباد، اندړ او يا هم داسې نورې پراخې سيمې نه ولايت کېږي او ولسمشر د جاغوري د ولايت کېدو ژمنه کوي، دا په طبيعي ډول د خلکو په منځ کې نفاق ته لمن وهل دي. دا ډول خبرې او کړنې به تبعيض او تعصب زيات کړي او خلک به لا زيات ناراضه شي.

د ولسمشر د دې ناقانونه کمپاين مخنيوی پکار دی. ټاکنيز کمېسيونونه که رښتيا خپلواک وي، په دې اړه بايد غبرگون وښيي. د ټاکنو څارونکي بنسټونه هم بايد د دغه ناقانونه کار پر وړاندې غږ پورته کړي او خپله دنده ترسره کړي. له بله اړخه سياسي گوندونه او د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو لپاره کانديدان او ټيمونه بايد خپل غږ پورته کړي او د دغه ناقانونه کار پر وړاندې ودرېږي. که ولسمشر اوس دولتي امکانات کاروي او قانون تر پښو لاندې کوي، نو د دې وېره زياته ده چې د ټاکنو پر مهال دې لا زيات قانون تر پښو لاندې کړي.

يوه بله لاره هم شته او هغه دا چې سياسي گوندونه دې فشار راوړي چې ولسمشر استعفا وکړي او بيا دې ځان ولسمشريزو ټاکنو ته کانديد کړي. که څه هم په قانون کې هغه پر استعفا مکلف نه دی، خو که ولسمشر دولتي امکانات کاروي، نو بيا همدا يوه لاره شته چې استعفا ته اړ ايستل شي. که ولسمشر همداسې پر خپله دنده وي، ناقانونه کمپاين کوي، دولتي امکانات کاروي او بيا کانديد وي، نو د ولسمشرۍ ټاکنې به مسخره وي او يو ځل بيا به ناقانونه ولسمشر او حکومت پر خلکو واکمن وي.

## پژواک: د افغانستان – ازبکستان د اړيکو له پراخېدو سره د دواړو هېوادونو پر گډه پوله تگ راتگ ډېر شوی

بلخ ولايت کې ځايي چارواکي، سوداگر او سياسي فعالان وايي چې د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د وروستيو نږدې اړيکو له امله د دواړو هېوادونو پر گډه پوله د خلکو تگ راتگ زيات شوی دی.

د ملي يووالي حکومت په جوړېدو او واک ته د محمد اشرف غني له رسېدو وروسته د افغانستان او منځنۍ اسيا هېوادونو ترمنځ د اړيکو نوی باب پرانيستل شو چې ازبکستان په کې مهم اقتصادي او فرهنگي حيثيت لري.

ياد هېواد د افغانستان شمال لور ته پروت دی چې د بلخ د حيرتان بندر له لارې نښلول شوی دی.

د افغانستان او ازبکستان هېوادونو ترمنځ روانه سوداگري، د دغو هېوادونو د نږدېوالي تر ټولو لوی لامل گڼل کېږي.

د بلخ د سوداگرۍ خونې اجرائيه مدير نصيراحمد قاسمي پژواک خبري اژانس ته وويل چې له ازبکستان سره د اړيکو له ښه کېدو او پراخېدو سره افغان سوداگرو ته اسانتياوې رامنځته شوې دي.

هغه وايي چې د ملي يووالي حکومت د هڅو او په ازبکستان کې د نوي حکومت په رامنځته کېدو سره د دواړو هېوادونو اړيکې ډېرې نږدې شوې دي.

قاسمي زياته کړه چې دمگړۍ ازبکستان هېواد خپل بندرونه د افغان سوداگرو پر مخ پرانيستي او همدا راز يې د ويزې ورکړه کې د پخوا په پرتله ډېره اسانتيا رامنځته کړې ده.

نوموړي وويل: «ازبکستان د افغانستان لپاره مهم ځای دی، زموږ سوداگر اوس په ډېرې اسانۍ سره د ازبکستان له لارې ډېرې توکي افغانستان ته واردوي او همدا راز له همدې لارې ځيني صادرات هم کوي چې دې چارې د دواړو هېوادونو پر سياسي او فرهنگي اړيکو هم مثبت تاثير کړی».

هغه زياته کړه چې پخوا له ازبکستان سره د ترانزيټ په برخه کې زياتې ستونزې موجودې وې او ياد هېواد د افغانستان سوداگريزو شرکتونو ته د باورليکونو په ورکړه کې همکاري نه کوله، خو د قاسمي په وينا چې اوس دغه ستونزې په بشپړ ډول له منځه تللې دي.

د هغه په خبره، د اړيکو له ښه کېدو سره د ازبکستان حکومت په ياد هېواد کې د افغان سوداگرو د پانگونې په برخه کې يو لړ اسانتياوې هم برابرې کړې دي.

د بلخ د سوداگرۍ خونې اجرائيه مدير زياته کړه: «پخوا به افغان سوداگرو خپل سوداگريز توکي لومړی په کنټيو کې له امو سيند څخه تېرول او بيا به يې ازبکستان کې دننه په اورگاډي کې ځای پر ځای کول او صادرول به يې خو اوس دغه بارگيري د افغانستان په خاوره کې کېږي».

د قاسمي په وينا، ازبکستان له روسيې او چين سره د افغانستان د سوداگرۍ په برخه کې هم مهم رول لري.

له دې وړاندې افغان چارواکو ويلي وو چې له ازبکستان سره د اړيکو د پراخېدو په موخه يې په ترمذ ښار کې د کونسلگرۍ د جوړولو هڅې پيل کړې دي.

د بلخ د سوداگرۍ خونې اجرائيه مدير وايي چې په ترمذ ښار کې د افغان کونسلگرۍ په پرانيستلو سره به دغه اړيکې نورې هم نږدې شي او د افغانستان پر سوداگرۍ به مثبت اغېز ولري.

نوموړی زياتوي چې د ازبکستان او افغانستان نوې اقتصادي اړيکې د سيمې د ټولې اقتصادي پياوړتيا لپاره هم ډېرې مهمې دي.

افغان سوداگر حاجي خيرالدين مايل له ازبکستان سره د افغانستان اړيکې د دواړو هېوادونو د اقتصادي پراختيا لپاره مهمې بولي.

نوموړي پژواک خبري اژانس ته وويل چې د افغانستان او ازبکستان د اړيکو په نږدې کېدو سره يې سوداگرۍ وده کړې او په وينا يې چې اوس په ډېرې اسانتيا سره واردات او صادرات کولای شي.

هغه زياتوي چې دمگړۍ افغانستان د ازبکستان له لارې له قزاقستان، چين او روسيې سره ښې تجارتي اړيکې لري.

د ده په خبره، هر څومره چې د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ ډيپلوماتيکې اړيکې قوي کېږي، په هماغه اندازه يې پر سوداگريزو اړيکو مثبت اغېز زياتېږي.

دغه سوداگر همدا راز وايي چې له ازبکستان او منځنۍ اسيا سره د سوداگريزو اړيکو په ښه کېدو سره افغانستان له بند او تړلي حالت څخه پرانيستي حالت ته تللی او اوس هېڅ هېواد نه شي کولای چې د پولو په تړلو سره پر افغانستان فشار راوړي.

نوموړی غوښتنه کوي چې د يادو دوه اړخيزو اړيکو د ښه کېدو لپاره دې نورې هڅې هم وشي.

د افغانستان او ازبکستان ترمنځ فرهنگي مشترکات هم د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو ښه کېدو په برخه کې مهم گڼل کېږي.

د بلخ د اطلاعاتو او کلتور رييس صالح محمد خليق پژواک خبري اژانس ته وويل چې افغانستان او ازبکستان تر ډېره فرهنگي مشترکات لري چې له همدې امله يې هم دوه اړخيزې اړيکې د لا ښه کېدو لور ته روانې دي.

نوموړی وايي چې ازبکستان ته د ولسمشر غني سفر او هلته د شاوخوا ۲۰ هوکړه ليکونو له لاسليکولو وروسته، د دواړو هېوادونو ترمنځ فرهنگي اړيکې هم ښې شوې دي.

د هغه په خبره، ډېرې فرهنگي مراسمو، ملي جشنونو او د موسيقي پروگرامونو لپاره د دواړو هېوادونو اوسېدونکي او دولتي پلاوي سفرونه کوي.

د بلخ د اطلاعاتو او کلتور رييس زياتوي چې دمگړۍ افغان او ازبک لوري پر دې کار کوي چې خپل فرهنگي مشترکات نور هم برجسته کړي، څويې له مخې يو بل ته لا ډېر نږدې شي.

د خليق په وينا، د دواړو هېوادونو ترمنځ د موسيقي او هنري گروپونو تگ راتگ او همدا راز افغانستان ته د تحصيلي سکالرشيپونو په ورکړې سره به دغه اړيکې نورې هم وغوړېږي.

له اقتصادي او فرهنگي برخو وروسته په سياسي برخه کې هم ازبکستان د افغانستان ښه گاونډی بلل کېږي.

د سياسي چارو شنونکی او د بلخ ادبي او ټولنيز خوځښت مشر ذبيح الله احساس وايي چې ازبکستان هېواد له افغانستان سره د دولت په دولت اړيکو پلوی دی او په همدې بنسټ د اړيکو د غځېدو پلوی هم دی.

د هغه په خبره، د افغان سولې په برخه کې د ازبکستان حسن نيت او پر افغاني مذاکراتو ټينگار له افغان دولت او افغانانو سره د ازبکستان دولت او خلکو پر ښو اړيکو دلالت کوي.

نوموړي وويل چې د فرهنگي او اقتصادي اړيکو ښه کېدل د افغانستان پر ثبات مستقيم اغېز لري چې په دې برخه کې د ازبکستان او افغانستان دوه اړخيزه همکاري د ډاډ وړ ده.

احساس زياته کړه: «سره له دې چې په افغانستان کې يو شمېر حکومت ضد سياسي گوندونو او څېرو هڅه کړې چې د ازبکستان حکومت ته ځان نږدې کړي او له دې لارې پر افغان حکومت د ازبک لوري باور راکم کړي؛ خو بار بار ازبکستان دا ډول وړانديزونه رد کړي او د دولت په دولت اړيکو پلوي يې کړې ده».

نوموړي په دې برخه کې د همکاريو د دوام او اړيکو ښه کېدو لپاره د دوه اړخيزو هڅو د ډېرېدو غوښتنه هم کوي.

د کابل ولايت اوسېدونکی سباوون چې څو مياشتې مخکې ازبکستان ته تللی و، وايي چې ويزه په ډېرې اسانۍ ترلاسه کېږي.

هغه زياته کړې چې د بلخ د حيرتان بندر له لارې ازبکستان ته ولاړل او هلته له کومې ستونزې پرته وگرځېدل.

د بلخ د والي وياند منير فرهاد وايي چې د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د همکاريو تړونونو له لاسليکېدو وروسته دوه اړخيزه همکاري زياته شوې ده.

هغه پژواک ته وويل چې هره ورځ سلگونه سيلانيان، سوداگر او پانگوال له کومې جدي ستونزې پرته پر گډه پوله تگ راتگ کوي.

فرهاد زياتوي چې له ازبکستان سره اړيکې او له دې لارې د منځنۍ اسيا له نورو هېوادونو سره همکاري، دا په ډاگه کوي چې افغانستان به په راتلونکې کې د منځنۍ اسيا لپاره مهم او ځانگړی ځای ولري.

ولسمشر غني تېره مياشت بلخ ولايت ته د خپل سفر پر مهال له ازبکستان او د منځنۍ اسيا له هېوادونو سره د افغانستان د وروستيو کلونو همکاري، د ملي وحدت حکومت لاسته راوړنه بللې وه.

جمهور رييس غني ويلي وو چې له منځنۍ اسيا سره د افغانستان په نښلولو سره يې دغه هېواد له اقتصادي جغرافيوي زندان څخه ايستلی دی.

## ملي دفاع وزارت: په يوولسو مياشتو کې د اردو ۳۰۵ جنرالان تقاعد شوي دي

د ملي دفاع وزارت وايي، په دريو پړاوونو کې يې سلگونه جنرالانو ته تقاعد ورکړی او هر تقاعد شوي جنرال تر لس زرو ډالرو امتيازات تر لاسه کړي دي.

د دغه وزارت وياند غفور احمد جاويد وايي چې په تېرو ۱۱مياشتو کې د افسرانو د ذاتي قانونو پر اساس د اردو ۳۰۵ ستر جنرالان، ډگر جنرالان، تورن جنرالان او بريد جنرالان تقاعد شوي دي.

جاويد زياته کړې: «دغه جنرالان په داسې احترام شکل باندې تقاعد شول چې په هېڅ نړۍ کې د دې ساری نشته، هغه اخيري معاش چې د دوی و هماغه ورته ورکول کېږي، د دې ترڅنگ دغه جنرالان چې تقاعد شول له اتو نه تر لس زرو ډالرو امتياز هم دوی ته ورکړل شوی دی».

د افسرانو د ذاتي قانون له مخې، هر ستر جنرال ته ٦٢، ډگر جنرال ته ٦٠، تورن جنرال ته ٥٨، بريد جنرال ته ٥٦ او ډگروالانو او نورو افسرانو ته ۵۴ کاله د تقاعد سن ټاکل شوی دی.

دفاع وزارت د جنرالانو د تقاعد يوه موخه په اردو کې اصلاحات او د ځوانو کادرونو ځای پر ځای کول بولي.

د اردو د جنرالانو د دقيق شمېر په اړه دفاع وزارت څه ونه ويل، خو له دې وړاندې دغه وزارت امريکا غږ ته ويلي وو چې د افسرانو د بيا کتل شوي ذاتي قانون پر اساس به يوازې ۳۰ سلنه برحاله جنرالان په دغه وزارت کې پاتې شي.

جاويد همدارنگه ويلي چې دا مهال ځوان کادرونه د تقاعد شويو جنرالانو پر ځای کار کوي چې هر يوه په هندوستان، ترکيه، ايټاليا، انگلستان او د مارشال فهيم په نوم پوځي اکاډمۍ کې زده کړې کړې دي.

له دې وړاندې يو شمېر کسانو پر دې نيوکه کوله چې د جنرالۍ رتبه ځوانو او بې تجربې ځوانانو ته ورکول کېږي؛ خو د دفاع وزارت وياند بيا ويلي چې د جنرالۍ رتبه ځوانانو ته د يو امتياز په بڼه نه، بلکې د پوهې د ارزيابۍ، مديريت او کاري سوابقو د کتلو پر اساس ورکول کېږي.

## حکمتيار او دوستم پر راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو بحث کړی دی

د حزب اسلامي مشر گلبدين حکمتيار او د اسلامي جنبش مشر جنرال عبدالرشيد دوستم د افغانستان پر راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو خبرې کړې دي.

د حزب اسلامي له مطبوعاتي دفتره رسنيو ته په استول شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د اسلامي جنبش مشر جنرال عبدالرشيد دوستم ورمه شپه له گلبدين حکمتيار سره د هېواد پر روان وضعيت، د سولې پر تامين او د جمهوري رياست پر راتلونکو ټاکنو تفصيلي خبرې وکړې.

سرچينې زياته کړې، له دې مخکې پخواني ولسمشر حامد کرزي، د نوي ملي جبهې مشر انوارالحق احدي او د گڼ شمېر نورو سياسي گوندونو مشرانو له حکمتيار سره د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو په اړه خبرې کړې دي.

په خبرپاڼه کې راغلي، حزب اسلامي تر اوسه د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره پر واحد محور او ټاکنيز ټکټ موافقه نه ده کړې، خو د سياسي گوندونو له مشرانو سره له مشورو وروسته به وروستی دريځ اعلانوي.

حزب اسلامي ويلي، د سياسي گوندونو گډ ټيم به داسې څوک د ولسمشرۍ لپاره د نوماند په توگه وړاندې کړي چې د دغه مقام وړتيا ولري.

سرچينه زياتوي، دغه نوماند به اسلام، ملت، ديني او ملي ارزښتونو ته ژمن وي. بايد د ملت تاييد ترلاسه کړای شي، له خپلې ډلې سره ژمنه وکړي چې د دوی له لورې ټاکل شويو اهدافو او پرېکړو ته به التزام لري، پر مطلق العنان واکمن او ډيکتاتور بدل نه شي.

په خبرپاڼه کې راغلي، د حزب اسلامي مشر حکمتيار هڅې پيل کړې څو ټول سياسي گوندونه دې ته چمتو کړي چې له تخاصم، منفي رقابت، ناموجبه اختلافاتو او يو د بل حذفولو له مخکنيو ناکامو تجربو لاس واخلي، يو بل وزغمي او پر واحد ټاکنيز ټکټ او د راتلونکي حکومت په مناسب، عادلانه او د منلو وړ ترکيب توافق وکړي.

# انتخاباتي کمپاین او د لوبو تیوري

نجیب منلی

د ریاضیاتو په برخه کې د لوبو (یا د جوارۍ) تیوري د نولسمې پېړۍ په وروستیو لسیزو کې رامنځته شوه. د شلمې پېړۍ په لومړیو کلونو کې یې په اقتصادي تحلیل کې خپل ځای وموند او له دویمې نړیوالې جگړې وروسته د اقتصادي مسایلو د څېړنې لپاره په یوه خورا مهمه وسیله بدله شوه. د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمه او د یوویشتمې پېړۍ په لومړیو کلونو کې څو واره د اقتصاد د نوبل جایزه هغو څېړونکو ته ورکړل شوه چې اقتصادي نظریات یې د لوبو د تیورۍ پر بنسټ ولاړ وو. د لوبو (جوارۍ) تیوري د ریاضي هغه څانگه ده چې په یوه تعامل کې د دوو لوریو ترمنځ چې دواړه په شعوري ډول له دغو تعاملاتو خبر دي، د عمل د لارو چارو د غوره کولو پر ډول باندې تمرکز لري.

کله چې د گټلو او بایللو خبره وي، نو که د یوه گټه او د بل تاوان سره برابر وي، (په ټوله کې صفر لوبه Zero Sum Game) ورته ویل کېږي او که مجموعي گټه د دواړو لوریو تر بایلنو لوړه وي، نو (په ټوله کې غیر صفر لوبه Non-Zero Sum Game) بلل کېږي.

د پرو (قطعو) او سپښتو لوبې په ټوله کې صفر لوبې دي، یانې څه چې یو یې گټي؛ دقیقاً هغه څه دي چې بل یې بایلي، خو د خیریه چارو لپاره لاټري په ټوله کې د غیر صفر لوبې یوه ښه بېلگه کېدای شي. گڼ شمېر کسان د لاټري ټکټونه اخلي، لږ شمېر پکې د ټکټ د بیې څو چنده گټه کوي، خو لوبه داسې عیاره شوې وي چې د ټولو گټل شوو جایزو ارزښت د پلورل شوو ټکټونو تر ارزښت کم وي. هغه پاتې پیسې د یوې خیریه چارې لپاره ځانگړې کېږي، یانې لوړه ټولنیزه گټه ترې لاسته راځي چې په نتیجه کې تولید شوی ارزښت (د جایزو مجموعه او ټولیزه گټه) د پلورل شوو ټکټونو تر ارزښت لوړ وي.

د لوبو تیوري د ټولنیزو تعاملونو او سیاسي اړیکو په تحلیل کې هم ډېره کارول کېږي.

په ټولنیز تعامل کې د «غیر صفر» لوبې مشهوره بېلگه «د بندیانو معضله» ده. په دې معضله کې دوه تنه د یو جرم په تور نیول کېږي. قاضي دواړو ته اختیار ورکوي چې له عدالت سره همکاري کوي (د مجرم په پیدا کولو کې مرسته کوي او که یې نه کوي). که دواړو یو د بل پر ضد شاهدي وویله، نو دواړه مجرم گڼل کېږي، پر هر یوه پنځه کاله بند راځي. که په دوو کې یو خپل شریک رسوا کړ، خو بل وفادار پاتې شو، نو هغه چې خپل ملگری یې رسوا کړی، ښېل کېږي او هغه چې خپل ملگری یې نه دی رسوا کړی، په لس کاله بند محکومېږي. درېیم حالت دا دی چې دواړه لوري یو بل ته وفادار پاتې شي، نو عدالت یې جرم نه شي ثابتولای، خو د شک پر بنسټ دواړه په یو یو کال بند محکومېږي.

په دې قضیه کې هر یو دا فرصت لري چې د ملگري په رسوا کولو له بنده خلاص شي، نو د مقابل لوري د افشا کولو گټه ورته لوړه ښکاري، خو که دواړه لوري همدغه قضاوت وکړي، نو دواړه د خلاصون په تمه یو بل رسوا کوي او په نتیجه کې یې دواړه پنځه پنځه کاله بندي کېږي. برعکس که دواړه لوري یو بل ته وفادار پاتې شي، نو کال وروسته به دواړه ازاد گرځي. د عقل حکم باید د همکارۍ او وفادارۍ په ملتیا کې وي.

د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو تبلیغاتي کمپاین د لوبو د تیورۍ په چوکاټ کې ډېر ښه ارزول کېدای شي. که هره انتخاباتي ډله داسې و انگېري چې د نورو ډلو په تخریب او سپکولو به د ځان لپاره د گټلو چانس زیات کړي او د حریف د گټلو چانس به کم کړي، نو نتیجه به دا شي چې ټول به د یو بل په سپکولو او تخریبولو بوخت شي، د یوې احتمالي گټې په خاطر به ټول لوبغاړي علی السویه تخریب شوي او ښکنځل شوي وي. په داسې حال کې چې ټول هغه ټیمونه چې کمپاین ته راوتي، په دویم دور کې مجبور دي چې له مخکښو دوو ټیمونو سره یوځای شي، یانې هغه چا ته ورنږدې شي چې په لومړي دور کې به یې په شرمونو شرمولی وي.

که برعکس ټول ټیمونه په انتخاباتي کمپاین کې له اعتدال څخه کار واخلي، د ټولنیزو اخلاقو مراعات وکړي، ملي منافع په نظر کې ونیسي، نو هر یو به د نورو د سپکولو پر ځای خپل پروگرام ته د ملاتړ په جلبولو کې هڅه وکړي او که په دویم دور کې یو له بل سره جوړېږي، نو دا توافق به د ملي منافعو د خوندي کولو یوه هڅه وبلل نه شي، نه یوه ناپاکه معامله.

د ریاضي علم خو په کمپاین کې د حد ساتلو او د متقابل درناوي پر بنسټ ولاړ ملي بحث تجویز کوي. گورو به چې د لوبغاړو ټولنیز شعور به کوم لوري ته درومي؟

# خلیلزاد د افغان سولې په تړاو د خپلو هڅو راپور له ولسمشر غني سره شریک کړ



د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد د سیمې هېوادونو ته د خپل دویم سفر په ترڅ کې کابل ته راغلی دی.

د ولسمشرۍ ماڼۍ مرستیال ویاند شاه حسین مرتضوي وایي چې خلیلزاد کابل ته په سفر کې له ولسمشر غني سره وکتل.

ارگ هم په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې خلیلزاد ورمه شپه له ولسمشر غني سره لیدنه کې د افغانانو په مشرۍ او مدیریت د سولې په هدف د سیمې هېوادونو ته د خپلو دویم ځلي سفرونو او پروگرامونو په اړه معلومات ورکړل.

د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې، خلیلزاد ویلي چې د خپل دویم ځلي سفرونو پایلې او راپور به کابل ته تر بېرته راگرځېدو وروسته له افغان ولسمشر سره شریک کړي.

سرچینه زیاتوي، ولسمشر غني له خلیلزاد څخه په مننې د افغانانو په مشرۍ او مدیریت د بین الافغاني مذاکراتو په برخه کې د هر اقدام هرکلی کړی.

زلمی خلیلزاد د روان کال د وږي میاشتې پر ۱۴مه د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړی استازی وټاکل شو .

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د افغان سولې لپاره د ځانگړي استازي په توگه د زلمي خلیلزاد تر ټاکل کېدو وروسته ویلي وو چې زلمی خلیلزاد به د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت له ټیم سره د روغې جوړې په پړاو کې مرسته وکړي.

خلیلزاد د خپل نوي ماموریت په لومړیو سفرونو کې د تلې پر ۱۲مه د افغانستان په گډون د سیمې د پنځو هېوادنو، پاکستان، متحده عربي اماراتو، قطر او سعودي عربستان له چارواکو سره د افغان سولې په اړه خبرې وکړې.

خلیلزاد کابل ته د خپل لومړي سفر په ترڅ کې له وسله والو طالبانو وغوښتل چې د سولې اړوند خبرو اترو لپاره خپل استازي ور معرفي کړي.

په لومړي سفر کې د زلمي خلیلزاد په غوښتنه د پاکستان لخوا د طالبانو د پخواني مشر د مرستیال ملا عبدالغني برادر خوشې کول او د طالبانو د قطر له دفتر سره د گوانتنامو د پخوانیو طالب زندانیانو یو ځای کېدل د سولې د خبرو د بریالیتوب لپاره د هغه د پیل شویو هڅو لومړۍ پرمختگ و.

قطر ته د خلیلزاد د سفر په ترڅ کې وسله والو طالبانو هم ویلي وو چې د دوی د قطر دفتر استازو له خلیلزاد سره د افغانستان د مسئلې پر سوله ییز حل خبرې کړې دي.

زلمی خلیلزاد په داسې حال کې د افغان سولې لپاره د افغانستان په گډون د سیمې هېوادونو ته خپل دویم ځلي سفرونه پیلوي چې د تېرې جمعې په ورځ مسکو د افغان سولې اړوند یوې غونډې کوربه و.


د مسکو په غونډه کې د افغانستان د سولې عالي شورا پر پلاوي سربېره د وسله والو طالبانو د استازو او ۱۲ نورو هېوادونو پلاوو هم گډون کړی و.

د سولې شورا او د چارو ځینې افغان شنونکي د سیمې هېوادونو ته د زلمي خلیلزاد دویم سفر ته هیله من دي او وایي چې ورته سفرونه به تر سولې د افغانانو مزل لا نور هم لنډ کړي.

له دې سره سره هم د سولې د خبرو د مالکیت په تړاو خبرې او اندېښنې پر خپل ځای دي او ویل کېږي چې افغان حکومت په دې پروسه کې څنډې ته شوی دی.

وړاندې ځینو لویدیځو رسنیو لا دا ادعا هم کړې وه چې زلمی خلیلزاد د سولې په تړاو د خپلو هڅو جزیات له حکومت سره نه شریکوي.

# د نړۍ مشرانو د لومړۍ نړیوالې جگړې د پای ته رسېدو سلمه کلیزه ونمانځله




د نومبر یوولسمه د لومړۍ نړیوالې جگړې کلیزه ده. د نړۍ مشرانو پرون د یادې جگړې د سلمې کلیزې په مناسبت زنگونه وکړنگول.

د نړۍ د نږدې ۷۰ هېوادونو مشرانو پرون د اروپا پر وخت غرمه مهال په فرانسه کې د «ناپېژانده سرتېري» لپاره جوړ شوي څلي ته د گلانو گېډۍ هم ور وړې. په پاریس کې د «ناپېژانده سرتېري» یادگاري څلی د داسې سرتېري قبر دی چې هویت یې نه دی معلوم او د ټولو هغو سرتېرو د یاد او درناوي لپاره جوړ شوی چې په لومړۍ نړیواله جگړه کې وژل شوي او مړي یې کورنیو ته نه دي رسېدلي.

د امریکا د متحدو ایالتونو ولسمشر ډونالد ټرمپ ورمه ورځ په دې مراسمو کې د گډون لپاره پاریس ته تللی دی. ټاکل شوي وه چې نوموړی له خپلې مېرمنې میلانیا ټرمپ سره یو ځای په فرانسه کې د لومړۍ نړیوالې جگړې پر مهال د وژل شویو امریکایي سرتېرو هدیرې ته ولاړ شي، خو دا پروگرام یې د سخت باران له کبله وځنډول شو.

په لومړۍ نړیواله جگړه کې نږدې ۴۰ هېوادونه گډ وو او له ۱۹۱۴ تر ۱۹۱۸ میلادي کاله پکې نهه میلیونه عسکر او منصبداران او شپږ میلیونه ملکي وگړي ووژل شول.

د لومړۍ نړیوالې جگړې له امله د اروپا نقشه تقریباً بدله شوه او د عثمانیانو او روسیې امپراتورۍ یې ختمې کړې.

د ۱۹۱۸ میلادي کال د نومبر په ۱۱مه جرمني رسماً تسلیم شو او د اروپا په لویدیځه جبهه کې څلور کلنه خونړۍ جگړه پای ته ورسره ورسېده.

د جرمني لومړۍ وزیره انگیلا مېرکل او د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون ورمه ورځ په هغه ځنگله کې چې وروستی وار پکې جگړه شوې او جرمني ځواکونه تسلیم شوي وو، یوه یادگاري لوحه ولگوله.

جرمني او فرانسه درې وارې په سختو جگړو کې سره مخامخ شوي، خو د دواړو هېوادونو مشرانو د سولې د پایښت لپاره یو بل گام پورته کړ.

په دې ځای کې د جرمني او فرانسې د رهبرانو کتنه یو سمبولیک حرکت و، ځکه په لومړۍ نړیواله جگړه کې تر ماتې وروسته اول وار و چې د جرمني یو رهبر د فرانسې دې سیمې ته ورځي.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### دیارلسمه ځانګړنه
### مثبت لیدلوری:



• په دېوال یې ولیکئ. مونږ ټول د سم فکر یادونې ته اړتیا لرو. بریالیو خلکو چې کومې ډالۍ یا لاسته راوړنې لرلې وي، هغه ځانته په مخامخ دېوال را ځړوي. په تاسې هم چې کوم شي مثبت اغېز کړی وي، هغه ځانته په مخامخ دېوال را وځړوئ چې د مثبت فکر او چلند یادونه درته کوي.

**له تجربې زده‌کړه**

ورزشي اتل ته چې وګورئ لوړ استعداد یې درته ښکاري، خو دا خلک لوړو ځوکو ته همدغه ذهن رسولي دي. لکه د تینس لوبغاړي کریس اوریت وګورئ. دې اتلس اتلولۍ تر لاسه کړې دي، ۱۳۰۹ لوبې یې ګټلې او ۱۴٦ لوبې یې بایللې دي. په اولس کاله وظیفوي بهیر کې تر اوسه له څلورمې درجې څخه نه ده ښکته شوې. نوموړې وايي: (ښه لوبغاړې تر خرابو هغو یوازې په ذهني لیدلوري بدلېږي. ښایي په یوه لوبه کې یوازې درې یا څلور امتیازه توپیر راشي، خو دا تاسې پورې اړه لري چې څنګه لوبه کوئ او د ګټې او بایللو ترمنځ توپیر رامنځته کوئ. که ستاسې ذهن قوي وي، هر هغه څه ترلاسه کوئ چې تاسې یې غواړئ.) آیا ستاسې ذهنیت امتیازاتو ته په کتو د ګټې دی؟

### څوارلسمه ځانګړنه
### د ستونزې حل:
### ستونزې مه پرېږدئ چې کړکېچ شي.

رهبران له دې معلومولی شئ چې ستونزې څنګه راسپړي.
هر یو د ځان په اندازه ستونزه را اخلي.
(جان مکسوېل)

معیار دا نه دی چې له ستونزې سره څومره په زړورتیا مخ کېږئ، معیار دا دی چې تېر کال مو ورته ستونزه لرله که نه؟
(جان فوستر دالس)
«د امریکا د کورنیو چارو پخوانی وزیر»

**یوه ښاري سوداګر چې کولای یې شول**

د وال مارت بنسټګر سام والټون نومېږي او دی په بېلابېلو نومونو یاد شوی. لکه د امریکا د وړو ښارونو دښمن او د امریکا د سرک د دکاندارانو له منځه وړونکی. د وال مارت مغازو په رامنځته کېدو ډېرو وړو دکاندارانو خپل کسب له لاسه ورکړ، خو حقیقت دا و چې سام والټون د شځړو او لانجو پر ځای د ستونزو حل ته مخه کړې وه. له نورو سره یې یوازینی توپیر دا و چې دی ښه رهبر و او د ستونزو په حل و فصل پسې به ګرځېده.

سام والټون د اوکلاهما په کینګ فیشر سیمه کې زېږېدلی او په میسوري کې را لوی شوی دی. ده رهبري په ښوونځي کې وښودله، د ښوونځي د فوټبال لوبډلې مشر شو او لوبډله یې تر بریا ورسوله، وروسته یې بیا همدا کار د باسکټبال لوبډلې سره هم وکړ. والټون چې له لېسې فارغ شو، څو کاله کار یې وکړ او بیا د دوهمې نړیوالې جګړې پر مهال یې په پوځ کې خدمت وکړ. عسکري یې چې ختمه کړه، بېرته د خپلې خوښې کس، یعنې خرُده فروشۍ ته شو او د خپلې مېرمنې په سلا یې د ژوند لپاره د ارکانزاس کوچنی ښار بنټون وټاکه. په همدې ځای کې دوی والټون فایو او نورې مغازې جوړې کړې.

د والټون کاروبار په دې ښه شو چې یو خو یې ډېرې زیاتې هلې ځلې کولې او بل یې د (سیلف سرویس) طریقه پیل کړه، دا طریقه تر دې دمه دومره دود نه وه. والټون ډېر زیات کار کاوه او د کار ساحه یې هم ورځ تر بلې پراخېده. تر دې چې په ۱۹٦۰ز کال کې یې د مغازو شمېر ۱۵ ته ورسېده. په دې وخت کې یې د هرب ګیبسون په نوم یو بل سیال د ارزان بیې مغازې د ارکنزاس په شمال ختیځ کې پرانیستي او له والټون سره یې سیالي پیل کړه.

والټون وايي: (مونږ ته دوه لارې پاتې وې: یا دا چې خپل پخواني کار کې پاتې شو او له ارزان بیه مغازو په هره برخه کې ښه ګوزارونه وخورو یا دا چې مونږ هم د ارزان بیه اجناسو کار پیل کړو. ما په همدې موضوع فکر وکړ او په دې توګه مو د ۱۹٦۲ز کال د جنوري په دوهمه نېټه، لومړۍ شمېره وال مارت مغازه د ارکنزاس په راجرز سیمه کې پرانیسته.) د لږ وخت په تېرېدو والټون نورې مغازې هم پرانیستې. د ده د مغازو لړۍ د هغه وخت د مروجو زنځیري مغازو په پرتله ځکه ښه وي، چې هغه نورې یې هغه وخت چندان ښې او مجهزې نه وې. له دې وروسته یې بلې موضوع ته مخه کړه. والټون دې پایلې ته ورسېده چې خپلې پلان جوړونې او د تولید وېش ته باید ډېر زیات پام وکړي. پایله یې دا شوه چې د خپلو همکارانو په مرسته یې (د وېش اصلي مرکزونه) جوړ کړل. په دې توګه د کمپیوټر په مرسته پوهېده چې په کومه مغازه کې کوم توکي کم او ډېر دي. خو د دغو سیستمونو جوړولو په والمارت مغازو لوی مالي پېټی کېښود. دا بله مسئله وه او حللاره یې دا شوه چې والمارت د پیسو ترلاسه کولو لپاره په بازار کې خپلې ونډې وپلوري.

والټون چې په ۱۹۹۲ز کال کې مړ کېده، شرکت یې د امریکا او مکسیکو په ۲۴ ایالتونو کې ۱۷۰۰ مغازې درلودې او په دې توګه سام والټون د امریکا تر ټولو لوی خُرده فروش شوی و.

**دوام لري...**

# سینیګال

◄ حشمت الله نوري



سینیګال د افریقا د لویې وچې په لوېدیځه څنډه کې د لوېدیځو طول البلدونو د ۱۱ او ۱۷ درجو او د شمالي عرض البلدونو د ۵ او ۱۷ درجو ترمنځ موقعیت لري. شمال ته یې موریتانیا، سوېل ته یې ګیني، ختیځ ته یې مالي او لوېدیځ ته یې شمالي اتلانتیک سمندر موقعیت لري.

سینیګال سمندري لنده هوا لري. د دغه هېواد هوا له نومبر څخه تر جون پورې وچه وي، خو له جولای څخه بیا تر اکتوبر پورې لنده وي. د ګمبیا خپلواک هېواد، د سینیګال په منځنۍ او سوېلي برخه کې له لوېدیځ څخه ختیځ ته اوږد پروت دی. د ګمبیا سیند له سینیګال سره د دغه هېواد په شمالي پوله بهیږي. د دغه هېواد ټول سیندونه شمالي اتلانتیک ته ورځي. په عمومي توګه د سمندر له سطحې د سینیګال ډېره ټیټه سیمه د اتلانتیک سمندر او تر ټولو جګه یې نپن دخه ته نږدې یوه بې نومه سیمه ده چې ۵۱۸ متره لوړوالی لري.

د دغه هېواد پلازمېنه د داکار ښار دی. د ټولو وګړو شمېر یې څه باندې ۱۵ میلیونه تنه اټکل شوی چې په هر کیلو متره مربع ساحه کې یې ٦۹ تنه ژوند کوي.

د دغه هېواد ۴۵ سلنه وګړي په ښارونو کې ژوند کوي او پاتې ۵۵ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې مېشت دي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول ژوند کې دپنځو ماشومانو د زېږولو اجازه لري.

سینیګال د اداري وېش له پلوه په ۱۴ سیمو وېشل شوی دی. ګرانډ ډاکر، پیکان، توبا، تیس نونیس، سنت لویېس او کرولوک د دغه هېواد لوی او مهم ښارونه دي.

د سینیګال ۹۵ سلنه وګړي تور پوستي دي او پاتې نور یې له بېلابېلو نژادونو څخه دي. دغه راز د دغه هېواد ۹۵ سلنه وګړي مسلمانان او پاتې پنځه سلنه نور یې مسیحیان او رومن کاتولیکان دي. رسمي ژبه یې فرانسوي ده، خو لیکدود یې لاتیني دی.

د سینیګال اساسي قانون د ۱۹٦۳ ز کال د مارچ په دریمه نافذ شوی او په ۱۹۹۱ او ۲۰۰۱ ز کلونو کې نوې کتنه پرې شوې ده.

د سینیګال ولسمشر د خلکو په خوښه د اوو کلونو لپاره ټاکل کېږي او حق لري چې دوه ځلې ځان نوماند کړي. د دغه هېواد لومړی وزیر د ولسمشر له خوا او د کابینې وزیران د لومړي وزیر په غوښتنه د ولسمشر لخوا ټاکل کېږي.

د سینیګال ولسي جرګه ۱۵۰ غړي لري چې ۹۰ تنه یې د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره او پاتې ٦۰ تنه نور یې د ګوندونو له لېستونو څخه د سیمو په تناسب ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې د رایه ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د سینیګال حقوقي نظام د فرانسې په مدني قوانینو او سیمه ییزو دودونو او د حساب د دولتي کنټرول د شورا پر پرېکړو ولاړ دی. دا شورا د دولت د حسابي څانګو چارې کنټرولوي.

د ولسواکۍ او سوسیالېزم افریقایي ګوند، د خپلواکۍ افریقایي ګوند، ولسواکه ټولنه، د کارګر ګوند غورځنګ، د سوسیالېزم او ولسواکۍ جبهه او د ملي سمون لپاره د خلکو غورځنګ د دغه هېواد لوی او مخکښ ګوندونه دي.

سینیګال د ۱۹٦۰ ز کال د اګسټ په څلورمه له فرانسې څخه خپلواکي ترلاسه کړه، نو له همدې امله د اګسټ څلورمه هر کال په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.

دغه هېواد د ګڼو نړیوالو ټولنو ترڅنګ په ۱۹٦۰ ز کال کې د ملګرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ.

د سینیګال اقتصاد په بهرنیو مرستو او پانګونو ولاړ دی. فاسفېټ د دغه هېواد ستر صنعتي صادراتي توکی دی. له دې وروسته کیمیاوي سره او د کبانو نیول، پروسس او صادرات خپل خپل ځایونه لري. سینیګال په وروستیو کلونو کې د اوسپنې او تېلو د استخراج پر پروژو باندې هم کار کوي. وروسته له دې چې په ۱۹۹۳ ز کال کې د سینیګال په اقتصاد کې درې سلنه پرمختګ وشو، د بهرنیو مرستندویو او مشوره ورکوونکو ټولنو په مرسته د اصلاحاتو له امله په سینیګال کې پانګه اچوه زیاته شوه.

سینیګال د لوېدیځې افریقا د اقتصادي او پولي ټولنې د غړي په توګه هڅه وکړه چې د سیمې ټول هېوادونه باید خپلې بهرنۍ تعرفې یو شان او ستونزې په ګډه حل کړي. ای اېم اېف په ۲۰۱۰ ز کال کې له سینیګال سره مرسته وکړه چې د اقتصادي ریفورمونو له لارې په دریو کلونو کې اقتصادي وده بیا ګړندۍ کړي. دغه هېواد په ۲۰۱۱ ز کال کې له ای اېم اېف نه د ۵۴۰ میلیونو ډالرو درېیمه برخه تر لاسه کړه چې په ځینو سترو او بنسټیزو پروژو او د کرنې په پراختیا ولګول شوې. په ۲۰۱۲ ز کال کې د دغه هېواد اقتصاد سم لوري ته روان شو چې اوسمهال هم دغه بهیر په ښه توګه روان دی.

د دغه هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو کچه ۲۸ میلیاردو ډالرو ته رسېږي، خو د سړي سرکلني عاید کچه یې ۱۰۱۹ ډالره اټکل شوې.

د سینیګال کاري ځواک شپږو میلیونو کسانو ته رسېږي. ۳۵ سلنه وګړي یې وزګار او ۴۹ سلنه کورنۍ یې د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي.

د دغه هېواد د عوایدو کچه څلور میلیارده ډالره او د لګښتونو کچه یې ۴،۸۰ میلیارده ډالره اټکل شوې ده.

د کانونو استخراج، سره زر، تېل، اوسپنه، مالګه، د خوراکي توکو پروسس، کیمیاوي توکي، ټوکران، د تېلو چاڼ، د کوچنیو موټرو او بېړیو مونتاژ، برېښنا، ساختماني توکي، وسلې او مهمات، لرګي، ټایرونه او لاسي کارونه د دغه هېواد په صنعت کې رغنده رول لري.

د سینیګال ۱۵ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده. د دغه هېواد ۲۰ سلنه خاوره څرځایونو، ۵۵ سلنه ځنګلونو او پاتې نوره غرونو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده.

د سینیګال ۸۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۷ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدې سکټور څخه لاسته راځي.

لرګي، ړدن، بادام، قهوه، وریجې، لوبیا، جوار او وابښه د دغه هېواد د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي.

اوسپنه، فاسفېټ، تېل، المونیم، کلسیم بوکسېټ، چونه او مالګه د دغه هېواد له لویو او مهمو کانونو څخه دي.

د سینیګال د صادراتو ټوله بیه درې میلیارده ډالره او د وارداتو ټوله بیه یې شپږ میلیارده ډالرو ته رسېږي. فرانسه، ایټالیا، هند، د امریکا متحده ایالتونه، انګلستان، مالي او چین یې لوی او مهم سوداګریز شریکان دي.

دغه هېواد ۱۰۰۰ کیلو متره د اورګاډي پټلۍ او ۳۰ هوایي ډګرونه لري چې ۱۲ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د ټلیفون کوډ نمبر یې ۰۰۲۲۱ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې اېس اېن دی او دوه میلیونه وګړي یې انټرنېټ ته لاسرسی لري.

د سینیګال د راډیو او ټلوېزیون دولتي شرکت څلور ټلوېزیونونه او ۱۵ راډیوګانې لري او ترڅنګ یې د رسنیو خصوصي برخه هم ټلوېزیونونه او راډیوګانې لري چې په فرانسوي او نورو دودیزو ژبو خپرونې کوي.

سینیګال د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید له کبله د افریقا او نړۍ له پرمختلونکو هېوادونو څخه شمېرل کېږي.

د دغه هېواد ۵۵ سلنه نارینه او ۳۲ سلنه ښځې په لیک او لوست پوهېږي. زده کړه په سینیګال کې له ٦ نه تر ۱۵ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده او هر هلک او نجلۍ په ژوند کې په منځنۍ توګه اته کاله په درس کې تېروي چې د نورې نړۍ په پرتله کمه شمېره ده.

د سینیګال پخوانی تاریخ شپږمې زېږدیزې پېړۍ ته رسېږي. هغه وخت د ګانا سترواکې په دغه ټوله سیمه خوره وه. د اتمې پېړۍ په وروستیو کې مسلمانانو په سینیګال یرغل وکړ. په ۱۰۴۰ ز کال کې د مرابطون دیني غورځنګ د سینیګال د سیند په یوه ټاپو کې منځته راغی. لس کاله وروسته د همدغه غورځنګ د مشرانو د هلو ځلو له امله د سینیګال د توکولور د لړۍ واکمن او نور مشران ټول د اسلام په دین مشرف شول. د توکولور د لړۍ واکمني تر ۱۲۵۰ ز کال پورې یقیني ده چې له دې وروسته د وولف قوم وار پیل کېږي. په ۱۵مه زېږدي پېړۍ کې پرتګالیان د سینیګال سواحلو ته ورسېدل او هلته یې د مهاجرو د استوګنې څو ښارګوټي جوړ کړل. دوی د همدغه ښارګوټي له لارې لومړی د ربړ او سرو زرو سوداګري پیل کړه او وروسته یې د امریکا نوي براعظم ته د سینیګال د تور پوستو مریانو په اخیستلو او خرڅولو لاس پورې کړ. په اوولسمو او اتلسمو زېږدیزو پېړیو کې برېټانویان، هالنډیان او فرانسویان هم د سینیګال د ارزانه مریانو او نورو شتمنیو په تمه دغه ځای ته ورسېدل. د سینیګال د کنټرول لپاره د اروپایي ځواکونو لوبه تر ۱۸۵۵ ز کال پورې د فرانسویانو په ګټه پای ته رسېده.

په ۱۸۹۵ ز کال کې فرانسې سینیګال په لوېدیځه افریقا پورې وتاړه. د ۱۹۴٦ ز کال د اکتوبر په ۱۳مه سینیګال د فرانسې د څلورم جمهوریت د قانون له مخې د فرانسې د متحده ایالتونو د یوه ولایت بڼه غوره کړه. له دې لړ مخکې فرانسویانو پر سینیګال باندې د توکولور د لړۍ واکمنې پای ته رسولې وه چې اته پېړۍ یې دوام کړی و. د نولسمې زېږدیزې پېړۍ په دویمه نیمایي کې په سینیګال کې د خپلواکۍ غوښتنې خوځښتونه پیاوړي شول. دې پیاوړتیا فرانسوي ځواکونه دې ته اړکړل چې ولسي پاڅونونه وځپي او دغو غورځنګونو په ۱۹۳۳ ز کال کې په سینیګال کې پر فرانسې فشار دومره ډېر کړ چې فرانسوي چارواکو د سینیګال له کورواکۍ سره موافقه وکړه او سینیګال د ۱۹۴۸ ز کال په نومبر کې د فرانسوي ټولنې په چوکاټ کې کورواکي تر لاسه کړه. سدارسنګور په دویمه نړیواله جګړه کې د فرانسویانو په ننګه له الماني پوځونو سره وجنګېد او یو کال وروسته د فرانسې د ولسي جرګې غړی شو.

کله چې سدارسنګور بېرته خپل هېواد ته ستون شو، د سینیګال د پرمختګ غوښتونکو اتحاد یې جوړ کړ او په ۱۹۴۹ ز کال کې یې د هېواد د بشپړې خپلواکۍ خبره پورته کړه. په همدې وخت کې د فرانسوي مستعمرو، سینیګال، سوډان او مالي فدراسیون جوړ شو. د ۱۹٦۰ ز کال د اپرېل په څلورمه د نوموړو هېوادونو فدرالي جمهوریت منځته راغی. دغه فدراسیون د مالي هېواد د مشرانو او پوځیانو د لوړتیا غوښتنې له امله ژر له منځه لاړ او سینیګال خپله خپلواکي اعلان کړه.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د سینیګال نوم نشته، نو له همدې امله دغه دواړه هېوادونه په خپلو کې هېڅ راز اړیکي نه لري.

له افغانستان څخه تر سینیګال پورې د هوا له لارې فاصله ۸۴۱۳ کیلو مترو ته رسېږي. دغه راز د کابل او داکار ښارونو ترمنځ د وخت توپیر څلورنیم ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۹۰ |
| € | ۸۵,۹۰ |
| Rp. | ٥٦٤ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۷,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - دهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - دهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د سیل او چکر لپاره په چین کې دغه ځایونه خورا مشهور دي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

چین د نړۍ دویم لوی هېواد دی چې اوسمهال له ۱.۳ میلیاردو کسانو ډېر نفوس لري. چین تاریخي هېواد هم دی چې له زیات اقتصادي پرمختګ سره سره یې لا هم خپل لرغونتوب له لاسه نه دی ورکړی. چین د سیل او چکر لپاره ډېر داسې ځایونه لري چې په نوره نړۍ کې یې ساری نه لیدل کېږي. دغه هېواد ته هر کال میلیونونه کسان ورځي، څو له تاریخي ځایونو یې لیدنه وکړي. دغه سیلانیان د چین لپاره د عوایدو یوه ښه سرچینه بلل کېږي.

شل کاله مخکې چین ته سفر کول یو څه اسانه خبره وه، خو اوس چې د چین نفوس هم زیات شوی او پر کورنیو سیلانیانو سر بېره دغه هېواد ته د بهرنیو سیلانیانو ورتګ هم زیات شوی، نو دغه سفر یې یو څه ستونزمن کړی دی. سیلانیان باید د یوه ځای د لیدو لپاره په اوږدو کتارونو کې ودرېږي. له اقلیمي نظره چین ته د سفر کولو تر ټولو ښه وخت د پسرلي له لومړیو د اوړي تر پیل او بیا د منې له اوله د ژمي تر پیلېدو پورې دی.

**۱- د چین لوی دېوال**

په چینایي ژبه کې یو متل دی چې وایي: «هېڅوک رښتینی اتل نه دی، مګر هغه وخت دی چې د چین پر دېوال ولاړ وي». دا متل په اصل کې د چین لوی دېوال ته د چینایانو ارزښت ورکولو په مانا دی. د چین دغه لوی دېوال ته په چینایي ژبه کې چانګچنګ (Changcheng) وایي.

دغه دېوال ډېرې کږې وږې لري چې له ژېړ سیند څخه تر مرکزي اسیا پورې د ٦۷۰۰ کیلو مترو په اوږد والي سره جوړ شوی دی. دغه لوی دېوال په ځینو ځایونو کې له شپږو تر اتو مترو پورې لوړ، خو په ځینو ځایونو کې ان ۱٦ متره لوړوالی هم لري.

هغه کسان چې چین ته ځي، نو هرو مرو له دغه دېوال څخه لیدنه کوي. د چین د ستر دېوال تاریخ له میلاده مخکې له پنځمې تر اتمې پېړۍ پورې رسېږي. دا دېوال د اور لپاره برجونه لري چې د خبر رسولو لپاره ورڅخه کار اخیستل کېده. د دغو دېوالو کار د هغه وخت امپراتور شي هوان په واسطه له میلاده مخکې تر ۲۲۱ ز کال پورې تکمیل شو. چینایان وایي: « هغوی چې د چین دېوال ته نه دي ختلي، هغوی اتلان نه دي». هر کال زرګونه سیلانیان یا توریستان د دغه دېوال لیدو ته ورځي . چینایان د خپلو نیکونو په دغه تاریخي یادګار ویاړي . د دغه دېوال ځینې برخې ډېرې ښې ساتل شوې چې له هغې جملې یې یو د « بادلېنګ » دېوال دی چې بیجېنګ ته نږدې ولاړ دی.

**۲- په پکن کې د امپراتورۍ ماڼۍ او ممنوعه ښار**

د چین تر ټولو لویه او مهمه ودانۍ د ممنوعه ښار د (امپراتورۍ ماڼۍ) ده چې د پکن په زړه کې موقعیت لري. دا هغه ځای دی چې که له نږدې نه وي، له لرې یې هم باید یو ځل وګورئ. دغه ښار د ۱۲۷۱ او ۱۳٦۸ لمریز کلونو ترمنځ جوړ شوی دی. دغه راز یې ځینې برخې چې اوس یې تاسو شاهدان یاست، د ۱۴۰٦ او ۱۴۲۰ ز کلونو ترمنځ جوړې شوې دي. داسې ویل کېږي چې تر اوسه په دغه ماڼۍ کې د ۲۴ امپراتوریو درلودونکې امپراتوران اوسېدلي دي. دې ودانۍ لږ تر لږه ۷۲۰ زره متره مربع ځمکه احاطه کړې ده او دېوالونه یې هم تر لسو مترو پورې لوړوالی لري. د دغه ممنوعه ښار لیدل ساعتونه وخت نیسي چې تر ټولو په زړه پورې یې په ښار کې د مرمرینو پلونو لیدل دي.

**۳- د سفالین لښکر**

په ۱۹۷۰ ز کال کې کله چې بزګران د شي ان په ښار کې په یوه کلي کې د څاه په کیندلو بوخت وو، نو ناڅاپه د سفالین له لښکر سره مخ شول چې دا په چین کې تر ټولو لوی تاریخي کشف دی. دغه لښکر له ۸۰۰۰ څخه د زیاتو عسکرو چې د قد اندازه یې هم پوره ده، ۵۲۰ اسونو، ۱۰۰ ګاډو او دغه راز د ګڼو نورو عامو خلکو مجسمې دي چې تاریخي مخینه یې له میلاد څخه ۲۸۰ کاله وړاندې ته ورګرځي. په دریو تل خونو کې ځای پر ځای شوي وو چې وموندل شول. دا په چین کې بله هغه سیمه ده چې په کلنۍ ډول ترې ګڼ کسان لیدنه کوي.

**۴- د لي په سیند کې په کښتیو کې سپرېدل**

د ګوانګشي په سیمه کې د ګولین ښار شمال ختیځه برخه بل هغه ځای دی چې د چین ښکلا یې یو پر دوه کړې ده. د دې سیمې له کږو وږو چې کوم سیند تېر شوی، ځانګړې ښکلا یې زیږولې ده. پېړۍ کېږي چې دغه ښار ګڼ شاعران، فیلسوفان او اوسنی سیلانیان ځان ته جذب کړي دي. تر اوسه د دغه ځای په اړه ګڼې کیسې، نکلونه افسانې او داستانونه جوړ شوي او لیکل شوي دي. د چین دغه سیمه هم ګڼ سیلانیان لري.

## له کندهاره ولسي جرګې ته نوماندان: د ټاکنو کمېسیون دې له بایومېټریک پرته کارول شوې رایې باطلې کړي



په کندهار کې د ولسي جرګې یو شمېر کاندیدان وایي، په ټاکنو کې پراخې درغلۍ شوې او له همدې امله له بایومېټریک پرته کارول شوې رایې نه مني.

هغوی دغه راز غوښتنه کوي چې مرکزي اداره دې د ټولو کارول شویو رایو د څېړنې او شمېرنې لپاره صلاحیت لرونکی پلاوی کندهار ته ولېږي.

له کندهاره ولسي جرګې ته نوماند نورمحمد عقاد پرون یوې خبري ناستې ته وویل، که څه هم په کندهار کې ټاکنې یوه اونۍ وځنډېدې او د خلکو هیله دا وه چې له دغه فرصت څخه په استفادې او د نورو ولایتونو په ټاکنو کې ستونزو ته په پام به ښې ټاکنې وشي، خو له بده مرغه دغه یوه اونۍ د اصلاحاتو پر ځای د درغلګرو له خوا د معاملو لپاره وکارول شوه.

هغه تور پورې کړ چې له ۱۰ تر ۱۵ کاندیدانو د ټاکنیزو کمېسیونونو له کارکوونکو او پولیسو سره معاملې کړې او له بېلابېلو لارو په کار اخیستو یې د هغوی په ګټه په ټاکنو کې درغلۍ کړې دي.

ده تور پورې کړ چې یوازې همدغه درغلۍ کوونکي کاندیدان غلي دي، خو پاتې له ۸۰ تر ۹۰ کاندیدان شفافیت غواړي.

دی وایي، دوی د درغلګرو کاندیدانو په ګډون د ټاکنیزو کمېسیونونو او هغو پولیسو محاکمه غواړي چې په ولسوالیو کې یې د ټاکنو په ورځ درغلۍ کړې دي.

نوموړي غوښتنه وکړه چې مرکز دې یو صلاحیت لرونکی پلاوی کندهار ته ولېږي، څو دغه موارد په بې پرې توګه وڅېړي.

د شبیر احمد قیومي په نوم بل کاندید وویل، ټاکنې یوه ملي پروسه ده او په دې پروسه کې خیانت کوونکی هم ملي خاین دی.

ده هم تور پورې کړ چې د کندهار په ټاکنو کې سازمان شوې او سیستماتیکې درغلۍ شوې دي چې باید په بې پرې توګه یې دقیقه څېړنه وشي.

هغه د ټاکنیزو کمېسیونونو مسوولین په غفلت او معامله ګرۍ تورن کړل او د هغوی محاکمه یې وغوښته.

یوه بل کاندید سید احمد سیلاب وویل چې خلک د سر په بیه راووتل او رایې وکارولې، خو څو تنه د هغوی په برخلیک لوبې کوي.

ده وویل چې تر ټولو اسانه او ارزانه لاره دا ده چې یوازې بایومېټریک رایې د حساب وړ وبلل شي.

د کاندیداند د دغو څرګندونو په ځواب کې په کندهار کې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون مشر ډاکټر نعمت الله وردګ ویلي چې دغه ډول څرګندونې یوازې د وخت ضیاع ده.

هغه زیاته کړه، دوی دا مني چې په ټاکنو کې تخنیکي ستونزې وې، ښایي په ځینو موارډو کې درغلۍ هم شوې وي چې په اړه یې شکایتونه ثبت شوي او د قانون له مخې څېړل کېږي، خو دا په دې معنا نه ده چې ګواکې ټولې ټاکنې له درغلیو ډکې وې.

دی وایي، د شکایتونو کمېسیون د دغو شکایتونو د څېړلو لړۍ پیل کړې ده او په دې برخه کې په جدیت کار کوي.

## ادعاوې: طالبانو ته د مسکو له غونډې د افغان حکومت په پرتله ډېره ګټه ورسېده



د ولسي جرګې ځینې غړي وایي چې د سولې د عالي شورا په پرتله طالبانو د مسکو له غونډې ډېره ګټه پورته کړه.

د مسکو په غونډه کې د افغانستان د سولې عالي شورا او د طالبانو د سیاسي استازو تر ګډون وروسته داسې نیوکو زور اخیستی چې ګواکې د سولې د عالي شورا د درې کسیز پلاوي ګډون په غونډه کې د طالب استازو د فعالیت تر اغېزې لاندې راغی.

د ولسي جرګې دویم منشي عرفان الله عرفان یو له هغو کسانو دی چې وایي طالب استازو د مسکو له غونډې ډېره ګټه پورته کړه. عرفان د بېلګې په توګه وایي چې د طالبانو پنځه کسیز پلاوي د سولې د عالي شورا د استازو په پرتله له نړیوالو رسنیو ډېره استفاده وکړه او په دې توګه د هغوی خبرې د رسنیو په سرټکو بدلې شوې.

عرفان په دې باور دی چې طالبانو ته د دومره فعالیت زمینه روسیې برابره کړې وه.

نوموړي ویلي: «هغه غونډه چې په مسکو کې جوړه شوې وه، دا یو مانور و چې روسیې اجرا کړ، امریکا ته یې خپل موقف څرګند کړ او همدا شان طالبانو نمایش اجرا کړ او ښکاره یې کړه چې د دې وړتیا لرم چې په افغانستان کې رول ادا کړم.»

د وسله والو طالبانو استازو او د افغانستان د سولې عالي شورا غړو د روسیې په کوربه توب د جمعې په ورځ په مسکو کې سره خبرې وکړې.

په دغه غونډه کې د روسیې او پاکستان په ګډون د لسو هېوادونو استازو ګډون کړی و.

افغان دولت د مسکو په غونډه کې له ګډون کولو انکار وکړ، خو د بهرنیو چارو وزارت په خبره، د افغانستان د سولې عالي شورا د یوه خپلواک ارګان په توګه په دې غونډه کې ګډون وکړ.

که څه هم په غونډه کې د افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ د بین الافغاني خبرو په پیل ټینګار کېده، خو د طالبانو پلاوي د خبرو د پیل لپاره د بهرنیو ځواکونو د وتلو شرط کېښود.

په ورته وخت کې د سولې عالي شورا ویاند سید احسان طاهري ازادي راډیو ته ویلي چې د دوی پلاوي له یوه پیاوړي دریځه د مسکو په غونډه کې ګډون وکړ.

طاهري زیاته کړې: «هیله لرو چې خصومت او ځینې شخصي موضوعات مطرح نه کړي او افغانستان په پام کې ونیسي، هر فرصت چې د افغانستان په ګټه وي، د سولې عالي شورا به ورنه استفاده وکړي او په قوت به ګام اخلي او همداشان باید ووایو چې دا غونډه ډېره ګټوره وه.»

د طاهري په خبره، د روسیې په ګډون د غونډې اکثرو غړو د بین الافغاني مذاکراتو په پیل ټینګار کاوه.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** عبدالرقیب نوري
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوتوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري او جواد تیموري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۲۱مه | د ۲۰۱۸ د نومبر ۱۲مه | دویم کال | ۲۸۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱٦ | ۱۹ | ۲۲ | ۱۷ | ۲۳ |
| ۱ | ٥ | ۸ | ٤ | ۱۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٥٥ | لمر ختل ۰٦:۲۳ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۳:۱۳ | ماښام ۰٤:٥۱ | ماخوستن ۰٦:۱۸

## نړۍ




## روسیه: د سوریې په ادلیب ښار کې د کیمیاوي وسلو د استعمال د جعلي پېښې د رامنځته کېدو هڅې کېږي



په ملګرو ملتونو کې د روسیې سفیر واسیلي نبنزیا ویلي، ترهګرې ډلې د «سپین خولیو» په همکارۍ هڅه کوي چې د سوریې ادلیب ښار ته نږدې د کیمیاوي وسلو د استعمال جعلي پېښه رامنځته کړي.

نبنزیا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غونډې ته ویلي چې په سوریه کې یې همکارانو داسې معلومات ترلاسه کړي چې ترهګرې ډلې د سپین خولیو په همکارۍ د توکسیک موادو په کارولو سره د کیمیاوي وسلو د استعمال د جعلي پېښې د رامنځته کولو هڅه کوي چې په وینا یې په دې تړاو معلومات یې څو ځله د ملګرو ملتونو له امنیت شورا سره هم شریک کړي دي.

سپین خولي د سوریې د غیرنظامي دفاع یوه ډله ده چې په بمبار شویو سیمو کې په داوطلبانه توګه خلکو ته مرستې رسوي. دا ډله که څه هم بې وسلې ده او ځان خپلواکه غیر سیاسي ډله بولي، خو مسکو یې د اسد د رژیم له مخالفینو سره په لاس لرلو تورنوي.

په ملګرو ملتونو کې د روسیې استازي ویلي، د کیمیاوي وسلو د جعلي پېښې د رامنځته کولو لپاره د کېدونکو هڅو په تړاو معلومات د روسیې پوځ ته هم ور رسېدلي دي. نوموړي د بېلګې په توګه ویلي چې د ترکستان د اسلامي حزب جنګیالیو له معارت النعمان څخه ادلیب ته ۲۰۰ لېتره کلورین غاز لېږدولی دی.

د روسي استازي دا څرګندونې په داسې حال کې دي چې امریکا د اسد رژیم او د هغه ملاتړي په سوریه کې د کیمیاوي وسلو پر کارولو تورنوي او په دې برخه کې د پړې ډېره ګوته روسیې ته نیسي.

د روسیې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت هم تازه ویلي چې مسکو د کیمیاوي وسلو د منعې او کنټرول ټولو معاهداتو ته ژمن دی او دا امریکا ادعاوې په حقیقت کې د خلکو د دوکه کولو هڅه ده.

